AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد

پوهنمل حاجي محمد نوزادي

۲۰۱۷/۱۰/۲۶

# د سرطان د واکسین یوه بریالۍ ازموینه

دا غملړلی نوم دی ورک سي . تیر کال مو د کورنۍ د یوه غړي د معایني وروسته ډاکتر په تیروتنه د سرطان شک وکړ او ځانګړو طبي کتنو لپاره یې روغتون ته یې ولیږه . تر هغه وخته چې د نوموړو معایناتو پایله را رسیده ، موږ ټولو د اوښکو په رود کي لامبو وهل . له نیکه مرغه څو هفتي وروسته کله چې د معایناتو پایله را ورسیده ، مالومه سوه چي هغه خبیث نه بلکه یو سالم تومور وو . زما خدای بخښلي پلار د همدغي ناروغي د کرغیړنو ریښو له کبله په ځوانۍ کي نیمخوا سو او موږ یې سر و نیم سر یتیمان پریښودو . تر اوسه پوري خو له بده مرغه حالت داسی دی ، د هر کور و درشل ته چي دغي ناروغي سر ښکاره کړی ، هغه یې د قبر او کفن و فکر ته اړ ایستلي ده

په ډنمارک کي د «Knæk Cancer» موسیسه چي د سرطان سره یې د مبارزي دنده پرغاړه اخیستې ده ، په خپله وروستنۍ مالوماتي پاڼه کی یې تر « نوی واکسین به بدن د سرطان په وړاندي مبارزي ته وهڅوي » سرلیک لاندي د نوي واکسین په اړه یو لړ مالومات خپاره کړی دی . دا ډول مالوماتي پاڼي د نورو سوداګریزو اعلانو او ریکلامونو سره په وړیا توګه د هر کور پُست بکس ته اچوي . ما هغه لیکنه و لوسته او راته اُمید بخښونکي ښکاره سو . ددې د پاره چي ټول مینه وال ور باندي خبر سي ، غواړم دا خوښي راوړونکي کرښي د پښتو ژباړي په مټ تر خپلو وطنوالو پوري ورسوم . دا تاسی او دا هم په هغي پاڼي کي د وړاندي سوو مالوماتو ژباړه :

د هیرلیف روغتون (Herlev Hospital) یوه ډله ځیړونکي ډاکتران د داسی یوه واکسین موندلو په لاره د پرمختګ په لور روان دي چي د انسان د بدن معافیتي سیسټم به پیاوړی او دي ته اماده کړي څو پخپله د سرطان په وړاندي مبارزه وکړي او هغه ته ماته ورکړي . دغه واکسین په یوه تازه هڅه کي ازمویل سوي چي لګښت یې دري میلیونه ډنمارکي کرونه کیږي او په ۲۰۱۵ کال کي د Knæk Concer موسیسي لخوا دغه پیسې ورته راټولي سوي وې . د واکسین لابراتواري ازموینه ښئي چي بریالۍ پایله به ولري .

پدې ازمایلو کي لسو ناروغانو ته چي د هډوکو د مغز سرطان یې درلود ، هر یوه ته د یوه مساوي وخت په تیریدو سره د یوه کال په جریان کي د نوموړي واکسین ۱۵ پیچکاری و لګولي سوې . واکسین باید د ناروغانو د بدن معافیتي سیسټم داسی تقویه کړی وای چي د ناروغ د حالت د ورانیدو ریسک کم سوی وای . په لابراتواري ازمایلو کي دغه بریالیتوب پخپله ځیړونکو ته اُمید بخښونکی و ګڼل سو . Nicolai Grønne Jørgensen چي په یاد سوي روغتون کي د ځیړونکي ګروپ غړی او د سرطان د معافیتي درملني په مرکز کي ډاکتر دي ، وایي : « موږ ډاډمن یو چي د واکسین د ازمایلو پایله به د لابراتوار نه بهر هم پر ناروغانو باندي مثبته وي» .

نهه شپیته کلن Jens Elmquist یو د هغو کسانو څخه دی چي ځان یې پخپله خوښه د ځیړنو د پاره وړاندي کړی دی . د یو لړ عادي او ورځني معایناتو په ترڅ کي چي د یو ډول عملیاتو د پاره یې تر سره کول ، مالومه سوه چي دی د هډوکو د مغز سرطان لري . وروسته د شیموتراپي (د کیمیاوي داروګانو په مرسته درملنه) او د بنسټیزو حجرو د تعویض په مټ دده درملنه وسوه . د درملنی په پایله کي د یوې مودې د پاره د سرطاني حجرو د راټلو مخنیوی کیږی .

Jens Elmquist پخپله پدې تړاو یادوونه کوي : « سرطان داسي یو بدمرغه خبیث نوم دی چي په اوریدلو سره یې دمرګ سیوری د سړی پر خیالونو وزر خپروي ، مګر کله چي مو ددې ناروغي په اړه پوښتني ګرویږني و کړي او پدې باره کي مو اړین مالومات تر لاسه کړل ، ما ، زما میرمنی او دوو بچیانو مي ډیر ژر ارامتیا و مونده ، ځکه خبر سوو چي دغې بلا یوازي زما ګریوان ته لاس ندی اچولی ، بلکه ډیري نور کسان هم ور سره لاس او ګریوان دي . د مالوماتو په ترڅ کي موږ پدې هم خبر سوو چي د هډوکو د مغز د سرطان سره سره ډیری کسان د ډیري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

مودي د پاره خپل ژوند ته په اسوده خاطر دوام ورکوي ، ځکه نو اوس زه پدې هکله ډير فکر هم نه کوم چې ګوندې پډغي ناروغی اخته یم» .

له بده مرغه د هډوکو د مغز سرطان داسی دی چې تر درملني وروسته هم بل ځلي بیا منځته راځي . د همدغه بیا راتلو د مخنیوی لپاره نوی واکسین ته پرمختیا ورکول کیږي او په همدې خاطر ده چې ښاغلي Jens Elmquist ځان د تجربو او ازمایلو د پاره وړاندی کړیدی . دی زیاتوي : « ما په دوه دلیله ځان د تجربو د پاره وړاندي کړ . لومړی دلیل دا وو ، زه هیله من یم چې تجربې به مثبتي پایلي ولري او زما درملنه به په دادمنه توګه داسی وسی چې د هډوکو د مغز سرطان به مې د تل د پاره پر ګونډو او بیا به سر راپورته نکړای سي . البته دا لامل مي یو ایګایستي ( ځان غوښتنه ) بنسټ لري . دویم لامل دادی چې زه به پدې توګه و کړای سم د څیړونکو د کار ملاتړ وکړم او له دغي لاري به مي دنورو ناروغانو سره مرسته کړی وي » . البته دویم لامل یې هغه وخت نورو ناروغانو ته ګټور تمامیدلای سي چې د څیړونکو هلي ځلي مثبته پایله ولري . باید ووایو چې دا یوازی د هډوکو د مغز په سرطان اخته ناروغان ندي چې ددې واکسین له مثبتو پایلو ګټه پورته کولای سي .

د څیړونکي ډلی غړی Nicolai Grønne Jørgensen پدې اړه زیاتوي : « که څه هم موږ دا واکسین د هډوکو د مغز پر سرطاني ناروغانو باندي ازمایو ، مګر د پرنسیپ له مخي نوموړی واکسین د سرطان د ټولو ډولونو په وړاندي ګټور تمامیدلای سی . دا داسی یو واکسین ندي چې یوازي سرطاني حجرو ته ځان رسوي او له منځه یې وړي ، بلکه ددې واکسین له کبله د بدن دفاعي معافیتي سیستم تقویه کیږي او پدې توګه بدن پخپله کولای سی د سرطاني حجرو په وړاندي جګړه وکړي ، هغوی ووژني او له منځه یې یوسي .

په پام کې ده ، پدې هکله څیړنیزه پروژه په ۲۰۱۹ کال کې پایته ورسیږي او دا پروژه یوه له هغو بیلګو څخه ده چې د Knæk Cancer موسیسي په مرسته او ملاتړ تر سره کیږي .

دا وو د نوموړي مالوماتي لیکني پښتو ژباړه چې لوستونکو ته وړاندي سوه . پدې هیله چې زموږ دغه ښکلی انسانستان ( د ځمکي کره ) د تل لپاره د سرطان له کرغیړنو ناوړتیاوو څخه پاکه او په امان اوسي .

پای

ډنمارک ــ ۲۵ / ۱۰ / ۲۰۱۷



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ